# د منی ، مذی او ودی ترمینځ څه فرق دی؟

Uncategorized November 6th, 2010

**داسلامی ان لاین قدرمنو مسولینو دزړه له مینی سلامونه ومنی پس دسلامه زما یوه پوښتنه ده خدای دی وکړی چی راته جواب یی کړی پوښتنه می دادی کچیری دشوق له وجی یو سړی دذکر تناسلی الۍ څخه دشوق اوبه اوځی په کمه اندازه باندی ایا پدی سړی غسل فرض کیږی او (کنه که راته جوای یی کړی دستاسو به ډیره مننه وی دستاسو ورور جهادمیر (سجاد**

**وعليكم وسلام ورحمة الله وبركاة**

**ځواب**

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**منې :**

**هغه سپینی سربښناکې غلیظی اوبه دی چه په خوند سره په توپ او تیز سرعت سره وځی له وتلو ورسته د سترتیا احساس کیږي او شهوت له منځه ځی .**

**د مني په وتلو سره که د بیداری په حال کې وي او که د خوب غسل فرض کیږي .**

**مذی :**

**هغه سپینی سربښناکی صافی رقیقی یا بی رنګه صافی رقیقی اوبه دی چې د شهوانی خیال په وخت کې خارجیږي یا د شهواني شوق په وخت کې وڅي .**

**ودي :**

**هغه سپینی سربښناکی صافی رقیقی اوبه دی چه د متیازو مخکې یا ورسته یا د کوم درانه کار یا درانه شی پورته کولو په وخت کې له شرمګاه څخه وځی یا که په بل رنګ وی زیږ یا بل ډول چې دکوم مرض له وجی وځی**

**د مذی او ودی په وتلو سره غسل نه فرض کیږي بلکي اودس ماتوي ( فتاوي دارالعلوم دیوبند ج ۲ باب طهارت )**

**لايفرض الغسل عند مذى او ودى بل الوضوء ومن البول جميعاً على الظاهر (الدرالمختار على هامش ج١ ص ١٥٣ ظفير ) .**